نظرمحمد مطمئن ۲۰۱۶/۰۹/۰۹

# د احمدشاه مسعود پلویانو ته د سولې وړاندیز

زموږ نظر به ممکن د کومې ډلې یا یو گروپ خلکو له نظر سره توپیر ولري، خو په دې معنی نه ده چې موږ هغوی ته درناوی نه لرو، بلکې د ټولنې د اصلاح او په هیواد کې د سولې، امنیت او اتحاد له امله کله ناکله یو څه لیکو.
یوویشتمه پیرۍ ده، که په بهر نړۍ کې وویل شي چې دلته په کابل کې د مړو ورځ د سپکو وسلو په ډزو سره په سړکونو باندې لمانځل کیږي، دلته د مړو په ورځ زوړ ښودنه او ځان خوښونه کیږي، دلته د مړو په ورځ د سیاسي او مادي امتیازغوښتنه کیږي، او دلته د مړو ارواحونه د هغوی د پلویانو له ناسمو کړنو څخه ځورول کیږي، د مړو د ورځې د لمانځلو پر بنیاد د هوایي ډزو له کبله د کابل بې گناه ښاریان وژل کیږي او یا ژوبل کیږي، ممکن بهرنیان دا خبره ژر ونه شي منلای.
څو مهم ټکي دي چې د احمدشاه مسعود پلویان یې په اړه فکر وکړي، تر څو راتلونکي کې دوی، کابل ښاریان او خلک له ستونزو څخه خلاص وي.
۱ ــ داچې د احمد شاه مسعود په نوم بنسټ د هغه د ورور لخوا جوړ شوی، ښه به وي چې د همدې بنیاد د لارې علمي کاروانه وکړي، که په دې برخه کې یې لږ او ډیر کار کړی وي هغه پرځای کار دی، داچې دومره گزاف مصارف د همدې یوې ورځې لپاره دوی ورکوي، په همدې مصارفو دوی کولای شي چې په خپل ولایت او ځینو نورو سیمو کې علمي مراکز جوړ او د خلکو په خدمت کې ورکړي.
۲ ــ که د همدې زیاتو مصارفو یوه برخه د شمال ولایتونو په لیرې پرتو سیمو کې د خلکو د تگ راتگ او سړکونو کې د پولچکونو د ستونزو له امله ورته همدا خدمت وکړي، ځکه د احمدشاه مسعود په ژوند کې ډیر پولچکونه او پلونه نړول شوي، خلکو ته به دا کار په زړه پورې وي.
۳ ــ همدا د احمد شاه مسعود بنیاد دې د همدې ورځې مصارف په یو ښه ښوونځي او یا کلینک جوړولو ولگوي، د دوی دغه ډول کړنې به نفرتونه کم او بالاخره له منځه یوسي.
۴ ــ د احمدشاه مسعود د انځور سره یو ځای دې د کوم بل مشهور جهادي قومندان انځور هم د خپلو موټرانو پسې ونښلوي، ترڅو خلک پوه شي چې د مسعود پلویان قومي، ژبني او سمئیز تعصب نه پالي.
۵ ــ د خپل رهبر استاد برهان الدین رباني د انځور تر څنگ دې د کوم بل مجاهد رهبر انځور هم وکاروي، نو بیا به د احمد ولي مسعود داخبره عملاً رنگ پیداکړي چې نور د قوم پرستي پرځای باید افغان ملت ته کار وکړو.
۶ ــ په داسې عملي لارو چارو دې کار وکړي چې د امریکا او ناټو د عسکرو له شتون پرته هم هغه کار امکان ولري، سمه ده چې اوس د بهرنیانو په شتون کې ټول واک او په ځانگړي ډول دیری وسلوال په کابل کې د احمدشاه مسعود پخواني پلویان دي، او دوی که زوروښودنه کوي، یا په همدې ورځ کابل ښاریان ځوروي، دا کولای شي، خو لس کلونه وروسته آیا داکار ممکن دی؟ موږ ولیدل چې هر کال وروسته دغه مراسم پیکه کیږي، زما یاد دي لومړیو وختونو کې د احمدشاه مسعود د لمانځنې په منظور ولسمشر کرزی پنجشیر ته د هغه مقبرې ته ورغی، څو کلونه وروسته دادی نه کرزي او نه هم ولسمشر غني په دغه مراسمو کې گډون درلود، دا ډول جهادي پخوانیو رهبرانو او پخوانیو مشهورو قومندانانو هم داخل گډون نه وو کړی.
۷ ــ د احمدشاه مسعود دکورنی غړي (احمدضیاء مسعود او احمدولي مسعود) دې هڅه وکړي چې قومي توپیرونو ته لمن ونه وهل شي، ځکه د همدغو تعصبونو قرباني خپله مسعود هم شو، که احمدشاه مسعود له انجنیر گلبدین حکمتیار سره ستونزه حل کړي وای، نه به طالب وای او نه به کورنۍ جگړو ته زمینه برابره شوې وای، او نه به هم نن موږ ته پخوانیو پرچمیانو او خلقیانو پیغوروته راکول.
۸ ــ داخل د احمد شاه مسعود لمانځنې غونډه کې د لوی کندهار، لویې پکتیا او لوی ننگرهار هومره ډیر کسان نه لیدل کیدل لکه چې په پخوانیو کلونو کې د هغوی حضور لیدل کیدی، په دې اړه دوی باید فکر وکړي چې کوم لاملونه دي چې خلکو له دوی څخه دومره زیاته فاصله نیولې ده.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزي بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

۹ – که دوی په دي باور وي چي احمد شاه مسعود د افغانستان د بیا رغوني ، سولي او امنیت لپاره کار کاوو، نو په کار ده چي د جګړي پر ځای د سولي او نږدیوالي څرګندوني وکړي، په کار ده چي نور له میلشه جوړولو څخه صرف نظر شي، او د یوې پایداره سولي له پاره کار وکړي.
۱۰ – داچي په غونډه کي د عبدالله عبدالله اجرایوي مشر او د بهرنیو چارو وزیر صلاح الدین رباني نظرونو ښکاره توپیر درلود، یو ډول یي پر عبدالله عبدالله بي باوري ښودله، دا ډول د احمدولي مسعود خبري ډیري توندي وي او تر ډیره عبدالله عبدالله ته متوجي وي، او د احمدضیاء مسعود په خبرو کي کوم خاص څه نه لیدل کیدل، معلومیږي چي دوی په خپلو منځو کي د احمدشاه مسعود څخه ورته پاتي شوي میراث (سیاسي او نظامي واک) باندي خپل منځ کي دومره اختلافات لري چي د مسعود لمانځغونډي په ورځ یي هم په سینو کي پټ ونه شوای ساتلای.
د احمدولي مسعود په اړه مي له ځینو کسانو اوریدلي دي چي هغه پر ملي جوړښت باندي باور لري، د احمدضیاء مسعود په اړه مي اوریدلي دي چي هغه د سولي اړوند خوشباوري لري، د مارشال فهیم د زوی ادیب فهیم په اړه مي ډیري مثبت خبري اوریدلي، چي هغه د جګړي پلوی نه دی، د خپلو مشرانو او ځانګړي ډول د پخوانیو مجاهدینو په تیروتنو باندي ښه پوه دی.
ولي ستونزه داده چي د شمال د تاجکو نور مشران د پنجشیر له مشرانو سره د سیاسي او نظامي واک پر سر ستونزه لري، هغوی فکر کوي چي د ګردو تاجکو حق یي د پنجشیر خلکو ورڅخه اخیستي دی، همدا ستونزې دي چي نور هم هیواد د بحران لورته بیایي، زما په اند ښه به وي چي د شمال تاجک ورونه په دي فکر وکړي چي پرته له یووالي او انعطاف څخه په هیواد کي ارام ژوند دوی ته هم ستونزمن دي او نورو وسلوالو ډلو ته هم. ښه داد چي عملا پرته د بهرنیانو سره له مشورې د سولي په برخه کي عملي اقدام وکړي او د سولي خبرو ته عملا ننوځي، که نه داسي ورځ به راشي چي بیا به دا سیاسي تیروتنه جبران نه شي کړلای، او دوی که په دي فکر وي چي د بهرنیو پوځیانو په شتون کي به د دوی همدا چرچي وي، نو خپل ځانونه دي د لس کاله مخکي حالت سره پرتله کړي. نه هغه سیاسي او نظامي ځواک ورته پاتي دي او نه هم په خپلو ولسونو کي ځای لري.
پرته له شکه چي تیرو دوو اونیو کي د شمال وګړو او په ځانګړي ډول زموږ تاجک ورونو کومي هڅي او څرګندوني د ډاکتر عبدالله په شمول درلودلي، دا د سولي، امنیت، قومنو او ملي یووالي پر مخ درني څپیړي وي.
هیواد په ډیر بد بحراني حالت کي قرار لري، د ګډ حکومت د مشرانو تر منځ سیاسي ناندرۍ زیاتي شوي، د شمال ټلوالي په منځ کي اختلافات تر سترګو کیږي، بل لورته پخواني افغان کمونستان د بیا ځل واک اخیستلو خوبونه ګوري، پاکستان کله د غني او کله د عبدالله له ملاتړ څخه خبري کوي، هند او ایران زموږ له نفاق څخه ګټه پورته کوي، امریکا په نوم مجاهد، که هر ډول بدي کړني یي کړي وي، هغه دلته نور نشي زغملای، زما په اند همدا وخت دی چي شمال ټلواله مخامخ له طالب وسلوالو سره د سولي مذاکراتو ته ننوځي، تر څو هیواد د تجزیي او حریص ګاونډیو هیوادونو له مداخلو څخه مصوئن پاتي شي.
افغان اوسنی جګړه ګټونکی او بایلونکی نه لري، که کومه ډله په دي نظر وي چي د زور او جګړو له لاري به بشپړ نظامي او سیاسي واک ترلاسه کړي، دا فکر همهغه پخوانۍ ناکامه تجربي دي، موږ سولي او په هیواد کي ګډ ژوند ته اړتیا لرو.
که د احمدشاه مسعود د کورنۍ پیژندل شوي غړي او د استاد رباني زوی، په ټوله کي د شمال ټلوالي غړي د سولي لپاره کار وکړي، نو د استاد رباني هغه ارمان به هم پوره شي کوم چي په اړه یي ماته استاد محمد زمان مزمل صاحب ویلي دي.

پای



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ